# د شهید ډاکتر نجیب الله د پنځلسم تلین په مناسبت
# د وطن ګوند د ننګرهار ولایت د لنډ مهاله تشکیلاتو د ځوانانو ولایتي شورا

د سپیڅلي او مهربان خدای په نامه

د ننګرهار ولایت د وطن ګوند د لنډ مهاله تشکیلاتو د ځوانانو ولایتي شورا د تسلیت پیغام د شهید ډاکتر نجیب الله د شهادت د څوارلسم تلین په مناسبت:

د ځوانانو د لنډ مهاله تشکیلاتو ولایتي شورا د ننګرهار ولایت د ویښ ځوان کول په استازیتوب د شهید ډاکتر نجیب الله د شهادت د څوارلسم تلین په مناسبت با شهامته افغانانو ، په ځانګړې توګه د ګران هیواد ځوان نارینه او ښځینه قشر ته تسلیت وایي.

څرګنده ده چه شهید ډاکتر نجیب الله د افغانستان پخواني جمهور رئیس او د وطن ګوند رئیس د افغانستان په معاصر تاریخ کي په بیساري توګه ټولي هغه هلي ځلي وکړې چه په افغانستان کي د جګړې د پاي ته رسیدو ، ډاډمني سولي او سوکالي لپاره اړیني وي، ان تردي چه د قدرت څخه تیریدل چه د افغانستان په تاریخ کي یوبې مثاله عمل دی ، هغه په دې لاره کي او د وطن د استقلال ، ځمکني بشپړتیا او ملي حاکمیت د ژغورلو لپاره خپل خوږ ژوند هم نذرانه کړ ، په همدې مناسبت مونږ یوځل بیا د ملي روغې جوړې د سیاست پلویانو ، سوله او امن خوښونکو افغانانو ، په داخل او بهر کي د وطن ګوند د لنډ مهاله تشکیلاتو غړو او د شهید ډاکتر نجیب الله محترمې کورنې ته تسلیت وایو او د شهید روح ته د ښادي او ببښني دعا کوو.

په درښښت

د وطن ګوند د ننګرهار ولایت د لنډ مهاله تشکیلاتو د ځوانانو ولایتي شورا